مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۴/۰۲/۲۴

ایکو (د زړه ټلویزیوني معاینه) Echocardiography

ایکو داسي معاینه ده چي د زړه د ساختمانونو او وظیفي په اړه ښه معلومات راکوي .

ایکو (د زړه ټلویزیوني معاینه) Echocardiography

یادونه: لاندي معلومات یوازي عمومي لارښووني دي. د معاینې تنظیم او لارې چارې ممکن په مختلفو روغتونونو کي مختلفي وي، تاسي باید تل د خپل ډاکتر یا د روغتون لارښووني ومنئ.

ایکو څه شی دی؟

ایکو د زړه التراسوند یا د خلکو په وینا ټلویزیوني معاینه ده. التراسوند د لوړې فریکوینسی غږونه دي، چي انسان یې د اورېدو توان نه لري، خو ځیني ماشینونه یې تولیدولی او تشخیص کولی شي. د ایکو ماشین همداسي غږونه تولیدوي او د زړه خوا ته یې لېږي، غږونه چي د زړه پر ساختمانونو لګېږي، بېرته راګرځي. لکه په دره کي یا د غره په ډډه کي چي چیغه وکړي، هلته اواز دې پر ډبرو لګېږي، بېرته راغبرګېږي او ته بېرته خپل اواز اوري. د ایکو ماشین هم د زړه خوا ته غږونه استوي، غږونه په زړه باندي لګېږي او بېرته راګرځي، د ایکو ماشین دغه راګرځېدلي غږونه راخلي او په تصویر یې بدلوي. ایکو د ټلویزیون پر پردې باندي د زړه دقیق تصویرونه ښیي، چي د زړه عضلات، د زړه چمبرونه یا جوفونه او نور ساختمانونه لکه دریځي یا والونه په کي جوت لیدلی شو.

د ایکو معاینه ولي کوو؟

د ایکو معاینې لپاره مختلف دلیلونه لرلی شو. دغه معاینه ممکن په دې خاطر اجرا شي، چي د زړه له حملې وروسته د زړه فعالیت وڅېړي، یا دا چي د زړه دریځي وګوري چي څنګه حرکت کوي، یا دا چي معلومه کړي د زړه شاوخوا ته مایع راټوله شوې ده که نه؟ همدارنګه په ځینو خلکو کي د زړه ولادي تکلیفونه وي، مثلاً د زړه دېوال یې سوری وي، دا ټول په ایکو کي معلومېږي.

د معاینې په بهیر کي څه به کېږي؟

ناروغ خپل ټټر لوڅوي او پر مېز څملي (په افغانستان کي پر ښځینه ناروغانو باندي څادر اچول کېږي چي پټي شي) د ماشین پروب د ناروغ پر سینې ایښودل کېږي، د دې لپاره چي پروب له سینې سره سم ولګېږي، جېل استعمالېږي، جېل نسبتاً ټینګه مایع ده او د غږ له انتقال سره مرسته کوي. پروب د مزي په واسطه له ماشین او له ټلویزیون سره نښلول شوی وي. پروب د لوړې فریکوینسی غږونه یا التراسوند تولیدوي او د پوستکي له لارې یې زړه ته لېږي، غږونه له زړه او د زړه له نورو ساختمانونو سره لګېږي او بېرته راګرځي. همدغه راګرځېدلي غږ ته په انګلیسي کي ایکو (echo) وایي. مختلف ساختمانونه په مختلفو اندازو ایکوګاني تولیدوي، د ایکو اندازه د غږي یا ساختمان په کثافت او کلکوالي پورې تړاو لري. مثلاً مایعات نرم دي او التراسوند په اسانی ځني تېرېږي نو ایکو یې کمه وي، په همدې وجه د زړه د چمبرونو منځ چي له وینو ډک دي د ایکو په ټلویزیون کي تک تور بریښي، خو د زړه دریځي له کلکو او کثیفو موادو څخه رغېدلي دي، په همدې وجه زیاته ایکو تولیدوي او په ټلویزیون کي سپین ښکاري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

څنګه چې د ایکو ماشین په دوامدار ډول غږونه تولیدوي، د زړه خوا ته یې استوي او له هغې خوا راګرځېدلي ایکوګانې په دوامدار ډول راخلي او په تصویرونو یې بدلوي، نو موږ کولی شو په دې معاینه کې هم د زړه ساختمان وګورو او هم یې حرکتونه وڅېړو. لکه د زړه دریځې چې کله خلاصېږي او کله تړل کېږي.

ډاکتر د معاینې پر وخت د ناروغ پر تېتر پروب دې خوا ها خوځوي، چې له مختلفو زاویو څخه د زړه ننداره وکړي او ټول ساختمانونه یې وګوري. په دې معاینه کې ځینې ناروغۍ په اسانۍ سره تشخیصېږي لکه د زړه روماتیزم او د دریځو تنګېدل، د زړه د عضلاتو غټېدل، د زړه ولادي او نورې ناروغۍ.

دغه معاینه درد نه لري او له ۱۵ تر ۳۰ دقیقو پورې وخت نیسي او خاصه تیاري نه غواړي. ناروغ کولی شي تر معاینې د مخه او وروسته هرڅه وخوري، وڅښي او خپله دوايي هم د نور کله غوندې وخوري.

د ایکو د معاینې نور ډولونه:

ډاپلر ایکو Doppler Echo: دا د زړه او رګونو په منځ کې د وینې بهیر ښیي. په دې میتود د وینې سرعت او جهت معلومولی شو. که د زړه دریځې لیك وي او وینه ترې وتښتي، په ډاپلر باندې یې تشخیصولی شو.

Stress Echo: دا ډول ایکو د exercise ECG غوندې معاینه ده او زړه تر بدني فعالیت وروسته معاینه کوي. ناروغ د څو دقیقو لپاره منډې وهي یا بایسیکل ځغلوي، بیا سم له واره معاینه کېږي. سټرس ایکو داسې هم کېږي چې ناروغ ته یو ډول دوايي ورکول کېږي، دغه دوايي زړه مجبوروي چې چټك او قوي حرکتونه وکړي.

echo Transesophageal یا د مرۍ له لارې ایکو: په دې معاینه کې یو وړکی پروب په نري پیپ پورې لګېدلی وي، ناروغ پیپ تېروي او ډاکتر د مرۍ له لارې زړه معاینه کوي. په دې میتود زړه له ډېر نژدې څخه معاینه کېږي او ډېر روښانه او واضح تصویرونه یې په ټلویزیون کې معلومېږي. دغه معاینه معمولاً هغه وخت اجرا کېږي چې ډېر دقیق معلومات مو په کار وي. مثلاً د زړه تر جراحي عملیات د مخه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ